میرعنایت الله سادات ۲۰۲۱/۱۲/۰۷

# دافغانستان دکولتور مخکښان

لیکونکي :میرعنایت الله سادات ژباړونکی په پښتو : محمد صفر خواریکښ

کله چې دافغانستان دژبې اوکولتور خبره رامنځ ته کيږي،نوورسره سم د«افغانی نویس» عبدالله نوم اوارزښتناکه کارونه مطرح کيږي. داستر میره څوک و؟اوزموږکولتور اوادب ته یې کوم نوښتګر چوپړکړی دی؟که ددري اوپښتو ادب ددې استاد تلپاتې اثار نه وی،موږبه اړوی چې دکلموماناګانې،یوازې دنورودلغتنامو اوقاموسونو له لارېپيدا کړو.ددغه رازشخصیتونو یادونه په واقعیت کې زموږ دملي کولتور ساتنه ده.

## افغانی نویس اودهغه بې مخینې نوښت:

مخکې تردې چې دهغه داثارویادونه وشي،ښايي چې په پیل کې هغه پیژندګلوي وکړو،چې دهغه دپوهې اوادبي څیړنوپه ډګرکې دهغه دستړیانه منونکي کاراودهیوادپالنې له احساس سره اشناشو.افغانی نویس دشلمې پیړۍ په ړومبنیوکلونوکې دکابل ښارداځکزیو په چم کې وزیږېد.پلار یې ملا محمدچې په عرض بیګي مشهورودامیر عبدالرحمان خان ددربارله نامتو لیکوالانو څخه واووروسته دامیرحبیب الله خان په دربارکې دهغه ددوتر رئیس و. دافغانی نویس پلاردلغمان اوموريې کابلۍوه.دغه ترکیب دابنيګڼه درلوده چې هغه له ماشومتوبه په دواړوژبو پښتواودري خبرېږ،لیکل او لوستل له پلاراومورڅخه زده کړي.وروسته یې رواجي علوم دخپل مهال له عالمانواو پوهانو،په ځانګړې توګه دپلارله دوستانونه زده کړي،ترڅودلیکوالۍ جوګه شواودغازي امان الله خان دباچاهۍ په ویاړلي پیرکې یې په کار پيل وکړ.
افغاني نويس روڼ اندی انسان اوله هيوادسره یې دمینې ژور احساس درلود.دهغه افکارو دامانی پيردغورځنګ اومشروطه غوښتنې ترغښتلی اغيزلاندې پاخه شوي ول. دهغه دهوښياردريځ اوخلکوسره دمينې له امله وچې سردارمحمد هاشم خان صدراعظم هغه دصدارت په دوترونوکې دهمکارپه توګه ونه شو زغملی اواړتون کې یې واچوه.په اړتون کې دهغه بندي کولوله مشروطه غوښتونکو بندیانو سره دهغه پيژندګلوي اواړیکې زیاتې کړې . افغاني نويس له مشروطه غوښتونکواونورو بنديانوڅخه ډېرڅه زده کړل چې نه یوازې په خبرو،بلکې به ليکلوکې يې تل ځليدل.همدغه کسان دهغه دتلپاتې کتابونوبه هرکلي کې کره کتنې اوليکنې لري چې ځينې يې دوخت د حکومت زغمل شوي اوپاتې یې دکابل په دولتي مطبعه کې له چاپ نه مخکې سانسور او له خپرېدوپاتې شوي دي. (۱)خپروشويوکره کتنو نه یوازې دليکوال ليکنې ارزولي دي،بلکې هغه پیاوړي شخصيت ته یې دلوستونکو پام هم وراړولی دی.
افغاني نويس لنډې،له مانادکې اودخلکودپوهاوی وړخبرې کولې.له لغت ښيندنې اوفضل پلورنې(ځان پوه ښوونې) نه یې کرکه درلوده.هغه زړه بوګنونکې اوخوښې هستونکې یادونه به یې چې دخلکو پروړاندې دافغانستان درژيمونوله چال چلند څخه راپيداکيدل،له ډار پرته اوښوونکې بڼه بيانول ).۲(
هغه خپل لاسوندونه اویاددښتونه په یومنظم خونديځ(ارشیف)کې ساتل.له دغه خونديځ څخه یو شميرليکوالانوپه خپلو ليکنوکې دمأخذپه توګه يادونه کړې ده چې دیادې شوې سکالو(موضوع)اړوند لاسونددښاغلي عبدالله افغاني نويس په شخصي خونديځ کې شته دی.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

افغانی نویس هڅاند اوکوښښي انسان و. ان دژوندپه ورستیوکي چي بدني توان یې کمیده،غوښتل یې د«افغان سرغندویانو» په باب خپلې پراخه او هراړخیزه څیړني بشپړې اوخپرې کړي.په دغه راز اثرسره هغه غوښتل چي هغه افغان شخصیتونه چي په بیلابیلوبرخو کي ځلیدلیول معرفي کړي.دهغه یادښتونوکي هیڅ برخه له پامه نه وه غورځول شوې اومذهبي،سیاسي،اقتصادي،اداري،پوځي،هنري،سپورتي،ادبي اوتولنیزې برخې په کې وې. په دغه برخه کي دهغه یادښتونه او ټولې کړې پانې زرګونومخونوته رسیدې.خوژوندیې وفا ونکړه چي افغانی نویس ددغه ګټور اثراوډنه اوخپرونه ترسره کړي.

دافغانی نویس خپرې شوې لیکنې:

پښتوقاموس:

دهرې ژبې لغتونه دهماغه ژبې ستنې اوبنسټ دي.دلغتونوسمي پوهیدنې اودهغوپرځای اووړکاروني له املا لوستونکي یا اورېدونکي په هماغه ښکلا اوزیرکی سره په مطلب پوهیدې شي.زیاتره لغتونه څوماناوې لري او دکارولودځای له مخې یې ماناوې له یوبل سره توپیر لري.

پخواتردې چي افغاني نویس پښتو- فارسی قاموس تدوین کړي،زموږ په هیوادکې پښتولغتونه اوماناوې یې دري ته نه وې ژباړل شوې اودیوقاموس په ډول ترتیب اوتنظیم شوې نه ول.دې نیمګړتیا دافغاني نویس پام ورواړوه او له خلکواودهغوی له کولتورسره دمیني له امله یې کارپیل کړچې داستره فرهنګی تشه ډکه کړي.څنګه چي په دې برخه کي دمخه کار نه وشوی نوراټولول اواوډل یې هم اسان کارنه واودعمر زیات کلونه یې په راټولواوترتیبولو تیرشول. هغه څه چي د«پښتو قاموس» په نامه یادېږي،یوازې دپښتو لغتنامه نه ده.بلکي دغه قاموس په عین وخت کي «دري په پښتو» لغتونه هم لري.په بل بیان داثر په یوه ټولګه کي ددواړوژبولغتنامه ده.ددې اثرتیارول په حقیقت کي نه یوازې له درې ادب سره دپښتوویونکوبلدتیا له پاره خدمت دی،بلکي درې ژبې یې دپښتوکلمود ماناوله پېژندنې اودپښتو ژبې دسمې زده کړې جوګه کړې دي.نوله دې امله ددې ګټور اثر نوم یوازې پښتوقاموس ددوه اړخیزه منځپانګې (محتوا)بیانوونکی نه شي کیدی.نوښه به وي چي دااثر په پښتو- فارسي قاموس یادشوی وی. داچي دې قاموس ددواړوژبوګړېدونکوډېرو هي اوعرفان دکچې د لوړتیاله پاره چوپړکړی دی،دهیڅ ډول شک ځای نه شته دی.خوداچي په هغه پیراومهال کي دتدوینونکي دې کارته کم ارزښت ورکړشي ،زموږ له اوسمهالي ادبي تاریخ نه دبې خبری اوپه پام کي نه نیولونه پرته بل څه نه دي.

هغه زیار چي افغاني نویس په خپله ددې قاموس دبرابرولواوډولوله پاره ګاللی،باید دهغه وخت دولت دافغانستان دکولتور دساتندوې اوپرمختیاله پاره ترسره کړی وی.دولت بایددخیرونکویوه ډله ګومارلې وی چي داملې دنده یې په چټکی سرته رسولې وې.خوله بده مرغه دهغه وخت واکمنو دغه راز کولتوري اړتیاوو ته ارزښت نه ورکوه. کلونه وروسته چي کله دااثر بشپړ شو،د«پښتو ټولنې» اداره دهغې دچاپ لګښت پرغاړه واخیست.دااثر په درې ټوکوکي تیارشوی وچي ړومبی ټوک یې په ۱۳۳۵او دویم اودریم ټوک یې په ۱۳۳۶کال کي په دولتي مطبعه کي چاپ شو.دپښتوقاموس کتاب دمطبوعاتوړومبی جایزه چي په هغه مهال کي د«اریانا جایزې» په نامه یادېده، دافغاني نویس په برخه کړه.

عامیانه فارسي لغتونه:

له عامیانه لغتونو نه مقصددخلکو ترمنځ رواجي ګړني(اصطلاحات) دي.که دالغتونه راټول اوونه لیکل شي،دوخت په تیرېدوسره یې یوشمیرنه کارول کیږي اوهیرېږي.دافغانستان دخلکو په ننني ولسي( عامیانه)ژبه کي،ناکارېدلي دري(ار)لغتونه رواج دي.خودایرانیانو له خبرو اتروڅخه داګړني نه اورېدل کیږي.طبیعی ده چي دافغانستان دفارسي په عامیانه لغتونو کي ددې ټاټوبي دنورو اوسیدونکوله ژبونه هم لار موندلې ده چي سرچینه اوراخیستنه یې سره توپیر لري.

نودیوسمندرګي (لغتنامي) په اړانه کي دهغوراټولول اواوډل،اسان کارنه و.افغاني نویس چي هرچیرته اوسیدلي او هرسیمې ته چي تللی،اوګړني یې اورېدلي هغه یې یادداشت کړې دي.ان کله چي بندی و،له بندیانوا وداړتون له ساتونکونه یې ګړني اورېدلي چي دخپل اثر دتدوین په مهال یې هغه نه دي هیرې کړې اوپه ولسي (عامیانه) اصطلاحاتوکي یې کښلي دي.

هغه زموږدهیوادپر ټولو رواجي ګړنو اولهجوغورکړی اودهریودکارولودځرنګوالي لټون یې کړی اودهغې سمه مانا



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

يي غوره کړي ده.داصطلاحاتودويلو اوبيان ډول ايجابوله چي ټول لغتونه خطاطي شي او غړيزي نبښي پرې زياتي شي.دغه کاردټايپ دماشين په وسيله نه کېده.نوتيار شوی متن دهېواديوپيژندل شوي ښايسته ليکونکي(خوش نويس) او اديب(مولانا خسته)ته وسپارل شوچي په قلم يي وليکي .
دعاميانه لغتونو ليکنه اسانه نه ده اوددبي کلموغونډې په يوټاکلي قالب کي نه ليکل کيږي.دساري په توګه؛د «نسوار» يا «نصوار» دليکلوله پاره دواړه د«س»اويا «ص» توری کارېږي چي له ادبي پلوه د«س» توری سم دی. خوپه عاميانه لغتونوکي په« ص» ليکل شوی دي).٣(
دمطبوعاتو مستقل رياست،ددي کتاب دارزوني اودخپرولوداړتيا دتثبيت له پاره دهيوادله پيژندل شويو اديبانو څخه يوکميسون وګوماره چي دکتاب دخپرولوپه هکله نظرورکړي.دکميسيون غړيوپه دې نظر توافق وکړچي ياد شوی اثر« ارزښتناک اوجامع اوپه نسخ کي يوازنی اوغوره، ګټورکتاب دی. نوکتاب بايد چاپ اوپه مطبوعاتی جايزه وستايل شي .« )۴(
ددي کتاب « لغتنامه فارسي عاميانه » په ړومبنيو مخونوکي ددې کتاب دارزښت اودليکوال دګټوروزحمتونوپه هکله دافغانستان دادب اوکولتوردمخکښانوقضاوتونه اوالواکونه شته دی.بې ځايه به نه وي چي دهغوی د هريوله
 لنډنقل قولونه په دې مقاله کي دقدرمنولوستونکو دمالوماتو له پاره وړاندې کړو.
اروابښادافغاني نويس مخکي له دې چي دااثر دخپرېدوله پاره دمطبوعاتو مستقل رياست وسپاري،هغه يي دلوړې پوهي څښتن اودمشروطيت دغورځنګ يو قدرمن کس(ميرسيدقاسم خان) ته سپارلی و،چي په دغه اړوندخپل قضاوت اوداستادی نظرورکړي.هغه دافغاني نويس دزيار ستاينه کړې اوددغه رازيوې ټولګي خپرول يي سملاسي اړتيابللي.افغاني نويس دغه شخصيت دخپل لارښود اوالهام ښونکی په توګه،يادوه.
عزتمند پوه عبدالهادي داوي چي ديوسياستمداراومشروطه غوښتونکي په توګه دافغانستان خلکوکي ښه نوم او ځانګړی ځای لري،دکتاب په هکله داسي ليکي:ددې کتاب ليکل،يو ګټوراونوښتګر اقدام اودافغانستان دفارسي لهجي دلغتونواوتعبيرونوارزښناکه زېرمه ده.داکتاب غالباً ړومبنی ګام دی چي دهيوادډګرنی لغتونو اوګړنو دزېرمه کولوپه لاره کي اوچت کړی دی اومؤلف يي دپايونيرانو[طراحانواومخکښانو) په ډله کي راوستی دی.
دادب أستادملک الشعراءعبدالحق بيتاب ليکي:دګړنی اوعاميانه فرهنګ کتاب،رښتياچي بې مخيني اثردی چي دداوړد ي مودې دخيرني اولټون له امله منځ ته راغلی له تأليف نه تيرشوی اودتصنيف ترپولي رسيدلی نوله دې امله دارزښت له پلوه دړومبی درجي مطبوعاتي جايزې وړدی.دادمينه والو له پاره په نوي اوتازه طريقه دکشنري ده. أستادخليل الله خليلي داسي ليکي:ددې ښکلي اثرخوساعتولوستلوزه بې اختياره دې ته اړکړم چي قدرمن ليکوال ته دهغه زحمت له امله چي په دې ټولګي کي يي ګاللی مبارکي ووايم اودانيک کارداسي وګڼوچي په دې باب زموږ په وخت کي پيل کيږي.په دې لار کي دليکوال څيړنه اوزيار،دهيوادله ادبي استقلال سره دهغه مينې ښکارندوی ده. هغه لغتونه چي په دې کتاب کي راټول شوي يوازې دعواموخبرې اترې نه دي بلکي په هغوکي ځيني کلمي هم ليدل کيږي چي ددې هيواددلرغونو أستادانواوويندويانواثارو کي شته اودوخت په تيرېدوسره وروستنيو ليکوالانوله خپلو ليکنو څخه غورځولي دي اوخلکو په خپلو خبرو اترو کي ساتلي دي.
بايد يادونه وکړوچي دفارسي دعاميانه لغتونوکتاب هم داريانه جايزه دخپل ليکوال په برخه کړي ده.

دهېواد په ورځپاڼواواوونيزو کي مقالي:

دهېواد په مطبوعاتو کي دافغاني نويس زياتي مقالي خپرې شوی دي.دامقالي په دواړو ژبو پښتواودري خپرې شوي دي.افغاني نويس دامان الله باچا په پيرکي دهغه وخت له جريدوسره خپله همکاري پيل کره.دسراج الاخبار، امان افغان،انيس اواصلاح په جريدواوورځپاڼو کي ددې سترميره ډېراثار خپاره شوي دي.(۵)ددغوليکنو يوشمير لکه دپښتو«لنډيو» راټولول اومعرفي دزيات ارزښت لرونکي ده اوداوسمهالوليکوالانو له پاره ارزښتناکه منبع ده.
زموږدملي کولتورلارويانوته دکاروان ددغه سالارياداودهغه دتلپاتي ليکنوپيژندګلوي اړينه وه.په يادوني سره په حقيقت کي موږدخپل ملي کولتور ساتنه کوو.

په کولتورسره ژوندي دي دمهال واړه قومونه　　　　له کولتوره بې خبرکوي دمرګ پرلورمزلونه


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

---------------------------------------

۱-دخپرندوی وینا: لغات عامیانهء فارسی-افغاني نویس،دویم چاپ،دبلخ دڅیرنو اوخپرونو مؤسسه،۱۳۶۹
۲-لیکوال دځوانی په مهال ،دافغانستان دتیرې پیړی دنالیکل شوي تاریخ په باب،دښاغلي افغاني نویس له ارزښتناکوخبرو څخه ډېر مالومات اورېدلي دي چې په دې وروستیووختونو کې یې ځیني اګاه کسان هغه لیکي. افغانی نویس زما دپلار( میرعزیزالله سادات) نږدې دوست و اوزموږ کورته نږدې اوسیده.
۳-افغاني نویس- لغات عمیانهء فارسی- کابل،دولتي مطبعه-۵۶۴-۱۳۳۸مخ
۴ -عبدالوهاب طرزی،محمدابراهیم خلیل،داکترجاوید،ضیاقاریزاده،محمدحسن فهیمي اوحیدرژوبل دکمیسیون غړي ول.
۵-دانشنامه ادب فارسی- دریم ټوک- داسلامی فرهنګ اوارشادخپروني- تهران-۱۳۷۸- ۱۰۳مخ



برای مطالب دیگر میرعنایت الله سادات روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com